جوزوف ستالین/ مارچ ۲۸ مه، ۱۹۱۷
ژباړه: فرهاد ویاړ
۰۷ فبروری ۲۰۲٤

## د فدرالیزم پر ضد

دلو ناروډا (۱) په خپله پینځمه گڼه کې، «روسیه ـ د سیمو یو اتحاد» تر عنوان لاندې یوه مقاله خپره کړی. په دې مقاله کې «د سیمو په اتحاد»، په یو «**فدرال دولت**» باندې د روسیې د هرومرو بدلېدنې توصیه شوی ده.

دلته یوه برخه یې لولو:

«چې د روسیې فدرال دولت، په مختلفو سیمو (کوچنی روسیه، گرجستان، سیبرې، ترکمنستان او نورو) کې د ځانگړی حاکمیت لرونکې په توگه اعلام شي...خو پرېږدئ چې مختلفو سیمو ته کورنی حاکمیت ورکړل شي. پرېږدئ چې د قانون د تدوین راتلونکې جرگه د روسیې د سیمو اتحاد جوړ کړي.»

د مقالې لیکوال (جوزوف اوکولیچ) دا خبره په لاندې ډول تشریح کوي:

«پرېږدئ، چې د روسیې یو واحد پوځ، یو واحده پیسه، یو واحد بهرنی سیاست او یوه واحده ستره محکمه جوړه شي. خو پرېږدئ، چې د یو واحد دولت بېلابېلې سیمې آزادی وي، خپل نوی ژوند په خپلواکی جوړ کړي. که په ۱۷۷۶ کال کې امریکایانو «متحده ایالتونه» د اتحاد د یو تړون له مخې جوړ کړ، نو موږ ولې په ۱۹۱۷ کال کې د دې توان ونلرو، چې د سیمو یو پیاوړی اتحاد رامنځ ته کړو؟»

دا هغه څه دي چې «دلو ناروډا» یې وایي.

باید ومنو، چې دا مقاله له بېلابېلو اړخونو زړه پورې، او په هر صورت نوښتگرانه ده. په ورته وخت کې د لحن هیبت یې، د «څرگندونې» ډول یې غولونکی دی، لکه چې وایي(«چې اعلام شي»، «پرېږدئ چې رامینځته شي»!).

سربېره پر دې، پام مو باید وي چې دا مقاله په ټوله کې د کنگستیا یوه عجیبه او غریبه ټوټه ده.کنگستیا یې د امریکې د متحده ایالتونو (همدا ډول د سویس او کانادا) د اساسي قانونونو د تاریخ په تړاو د لاندې بابیز چلند له امله ده.

### دا تاریخ موږ ته څه وایي؟

په ۱۷۷۶ کال کې متحده ایالتونه یو فدراسیون نه، بلکې د هغه څه کنفدراسیون و، چې له وړاندې خپلواکې ښکېلاکمېنې یا ایالتونه و. په دې مانا، چې خپلواکې ښکېلاکمېنې موجودې وې، خو د دښمنانو، په تېره بیا د بهرنیو دښمنانو په وړاندې د خپلو مشترکو گټو د خوندیتوب په خاطر یې یو ائتلاف (کنفدراسیون) جوړ کړ، بی له دې چې بشپړه خپلواکه

ایالتونه له مینځه لاړ شي. په ۱۸۰۰ کلونو کې د دغه هېواد په سیاسي ژوندانه کې یو ډېر جدي بدلون رامینځته شو:شمالي ایالتونو د ایالتونو تر منځ د لا پیاوړي او نژدې سیاسي تړاو غوښتنه وکړه، بر خلاف، سویلي ایالتونو، چې د «مرکزیت» په وړاندې یې اعتراض وکړ د زاړه سیستم په ننګه ودرېدل.«داخلي جګړه» پیل شوه، چې پایله یې د شمالي ایالتونو برلاسي او په امریکا کې د فدراسیون رامېنځته کېدل و.دا فدراسیون د خپلواکو ایالتونو یو اتحاد و، چې په قدرت کې له فدرال(مرکزی) دولت سره شریک وو. خو دا سیستم ډېر ونپاید.فدراسیون ثابته کړه، چې د کنفدراسیون په اندازه یو انتقالي اقدام و.د ایالتونو او د مرکزي دولت تر منځ بی ځنډې مبارزې ادامه درلوده، غبرګ دولتونه د زغم وړ نه و او په راتلونکې پرمختایي بهیر کې متحده ایالتونه له فدراسیون څخه په یو واحد (یولاسي) دولت واوښت، چې د اساسي قانون یو شان نصوص یې لرل او د همدې نصوصو له مخې یې ایالتونو ته د محدودې(نه دولتي، بلکې سیاسي ـ اداري)مختارېدلو اجازه ورکوله.متحده ایالتونو ته د «فدراسیون» نوم ورکول تشه یوه کلمه ده، د تېر یو یادګار دی، چې له ډېرو وختونو راپدیخوا د چارو له واقعي حالت سره اړخ نه لګوي.

**ورته خبره د سویس او کانادا په اړه، چې د مقالې لیکوال ورته مراجعه کوي، هم باید وویل شي.موږ په پیل کې همدا شان خپلواکه ایالتونه (کانتونه)، د لاپیاوړي اتحاد لپاره یو شان مبارزه(په سویس کې د زوندربوند(۲) په ضد جګړه، په کانادا کې د بریتانیا او فرانسي مبارزه) او له فدراسیون څخه یو واحد دولت ته د اوښتني یو ډول پایلې وینو.**

**دا واقعیتونه څه په ډاګه کوي؟**

یوازې دا په ډاګه کوي، چې په امریکا، همدا ډول په کانادا او سویس کې یو واحد دولت ته د خپلواکو سیمو پرمختګ، د فدراسیون کېدلو له لارې تر سره شوي دي. دا څرګندوي، چې د پرمختګ بهیر د فدراسیون په ګټه نه، بلکې د هغه په ضد و. فدراسیون یوه انتقالي بڼه ده.

دا ناڅاپي نه ده، ځکه په وروستي بڼې د پانګوالی وده، چې هم مهاله د اقتصادي چاپېر له پراختیا او له مرکزیت سره لېوالتیا لري، نه یوازې چې فدرالیزم نه غواړي، بلکې یو واحد دولت غواړي.

موږ دا بهیر له پامه غورځولی نشو، مګر دا چې هڅه وکړو چې د تاریخ څرخ شا ته تاوو کړو.

نو دې پایلې ته رسېږو، چې په روسیې کې د فدرالیزم لپاره کار، چې د ژوند د ټولو واقعیتونو په پام کې نیولو سره په ډاګیزه توګه محکوم په نابودېدلو دی، هوښیاري نه ده.

«دلو ناردوا» په روسیې کې د هغې تجربې د تکرارېدلو وړاندیز کوي چې په ۱۷۷۶ کې په متحده ایالتونو کې تر سره شوه. خو آیا د ۱۷۷۶ متحده ایالتونو او د ننني روسیې تر منځ ان کوچنی ورته والی شتون لري؟

متحده ایالتونه هغه وخت د خپلواکو ښکېلاکمېنو یوه ډېرۍ وه، چې له یو بل سره یې تړاو نه درلود او لېواله وو چې لږ تر لږه د کنفدراسیون په بڼه له یو بل سره وتړل شي. دا لېوالتیا ډېره طبیعي وه. خو له کوم پلوه، دغه وضعیت له ننني روسیې سره یو شانتي دی؟ البته، له هېڅ پلوه! ټولو ته جوته ده، چې د روسیې سیمې (سرحدي برخې) له اقتصادي او سیاسي تړاو له مخې د مرکزي روسیې سره تړلي دي او هر څومره چې روسیه دموکراتیکه کېږي، دا تړاو به لا پیاوړي کېږي.

سربېره پر دې، په امریکا کې د کنفدراسیون یا فدراسیون د رامنځته کولو لپاره د ښکېلاکمېنو متحدول، چې له یو بل سره یې تړاو نه درلود، اړین وو؛ دا د متحده ایالتونو د اقتصاد د پرمختګ په ګټه وه. خو که وغواړو، چې روسیه په فدراسیون بدله کړو، نو د شته سیاسی او اقتصادي اړیکو پرېکول، چې بېلابېلې سیمې له یو بل سره تړلي، اړین دي.دا مطلقاً بېراتوب او ارتجاعي کار دی.

په پاې کې دا، چې امریکا(د کانادا او سویس په شان)نه په ملي، بلکې د جغرافیایي کرښو په حساب په ایالتونو(کانتونو)وېشل شوی ده.ایالتونه له مستعمراتي ټولنو څخه، پرته له دې چې ملي جوړښتونه یې په پام کې ونیول شوي رامنځته شول.په متحده ایالتونو کې څو درجنه ایالتونه شته، خو یوازې اوه یا اته ملي ډلې شتون لري. په سویس کې ۲۵ کانتونه (سیمې) موجودې دي، خو یوازې درې ملي ډلې شتون لري.په روسیې کې داسې نه ده.

څه چې په روسیې کې هغه سیمې یادېږي، چې ګنې خودمختارۍ ته اړتیا لري (اوکرائین، پورې غاړې قفقاز، سیبري، ترکمنستان او نور) یوازې ساده جغرافیایي سیمې نه دي، لکه چې اورال یا اولګا سیمې دي؛ دا د روسیې مشخصې برخې دي، هر یو یې د ژوند له مشخصو طریقو او له مشخص ملي (غیر روسي) جوړښتیزه نفوس سره. دقیقاً د همدې لپاره په امریکا یا سویس کې د ایالتونو خودمختاري (یا فدرالیزم) د ملي مسئلې له حل څخه نه یوازې چې لېرې ده(په حقیقت کې دا مسئله یې موخه هم نه ده!)، ان د دې مسئلې په اړه څه هم نه وایي. خو، په روسیې کې د سیمو خودمختاري (یا فدرالیزم) دقیقاً د همدې لپاره مطرح کېږي، چې ملي مسئله طرح او حل کړي، ځکه چې روسیه د ملي کرښو په بنسټ په سیمو وېشل شوی ده.

## نو آیا ښکاره نه ده، چې د ۱۷۷۶ متحده ایالتونو او د ننني روسیې تر منځ پرتله، مصنوعي او احمقانه ده؟

آیا ښکاره نه ده، چې فدرالیزم به په روسیه کې ملي مسئله حل نکړي او حلولی هم نشي او د تاریخ څرخ د تاوولو لپاره د دون کیشوت وزمه هڅو سره یوازې دا مسئله مغشوشه او پېچلې کوي؟

نه، په روسیې کې د ۱۷۷۶ امریکا د تجربې د تکرارولو وړاندیز مثبت نه تمامېږي. نیمه انتقالي اقدام یاني فدرالیزم د دموکراسۍ په ګټه نه دی او کېدای هم نشي.

د ملي مسئلې حل باید هغومره عملي وي، څومره چې رادیکال او نهایي وي، یانې:

۱. د روسیې د هغه مشخصو سیمو هستوګنو ملتونو لپاره، چې نشي کولای او یا هم نه غواړي چې په یو واحده اډانه کې پاتې شي، د بېلتون حق؛

۲. د هغو سیمو لپاره چې خپل خاص ملي جوړښت لري او په یوه واحده اډانه کې پاتې کېږي، د همدولې اساسي قانون له نصوصو سره سیاسي خودمختاري د یو واحد (یو موټي) دولت په اډانه کې.

د دې لارې او یوازې د دې لارې د سیمو مسئلې په روسیه کې باید حل شي.*

پراودا، ۱۹ مه ګڼه، د مارچ ۲۸ مه، ۱۹۱۷

## د لیکوال یادداښت:

*دا مقاله د فدرالي دولت د بڼې، چې زموږ په ګوند کې په هکله یې هغه وخت نظریات راڅرګند شوي وو، د ردولو څرنګوالی ښکاره کوي. له مشروط فدرالیزم سره مخالفت، شاهومیان ته د لنین د ۱۹۱۳ د نوامبر په لیک کې تر ډېره په روښانه توګه څرګند شوی دی. لنین په دغه لیک کې ویلي دي:«موږ بې له کوم شکه د دموکراتیک مرکزیت ملاتړ کوو. موږ د فدرالیزم مخالف یوو... موږ اصولاً د فدرالیزم مخالف یوو، فدرالیزم اقتصادی تړاو کمزوری کوي او د یو دولت لپاره مناسب نه دی. ته غواړې جدا شئ؟ سمه ده، که کولای شئ اقتصادي اړیکې پرې کړی او یا هم د ګډ ژوند ستونزې او اصطکاک دومره ډېر وي، چې اقتصادي اړیکې ویجاړوي او ترخې کړي، نو ځه ورک شه! ته نه غواړئ بېل شئ؟ ښه ده، نو بیا زما لپاره تصمیم مه نیسئ او فکر مه کوئ چې د فدرالیزم غوښتنې «حق» لری. (د لنین د آثارو کلیات، ۱۸ ام ټوک، ۹۰ مخ وګورئ).

د یادوني وړ ده، چي په ۱۹۱۷ کال کي د ګوند د اپریل کنفرانس کي د ملي مسئلي په تړاو په تصویب شوې پرېکړه لیک کي ان د یو فدرال جوړښت ذکر هم ونشو. پرېکړه لیک د یولاسي (واحد) دولت په اډانه کي د ملي سیمو د جلا کېدني او خپلواکۍ په حق کي او بالاخره د ملي امتیازاتو د اکید ممنوعیت لپاره د اساسي قانون د تصویبولو په برخه کي خبرې کړي دي، خو یوه کلمه یې هم د دولت د فدرالي جوړښت د مجازتیا په اړه نه ده کړې.

د لنین د «دولت او انقلاب» (اګست ۱۹۱۷) په کتاب کي، ګوند د هغه له لارې «یو متمرکز جمهوریت ته» د انتقالي بڼې په توګه، د فدرالیزم د منلو د مجازتیا په موخه لومړنی جدي قدم واخیست، که څه هم، دا منښت د یو شمېر بنسټیزو شرایطو او ملاحظاتو سره مل ول.

«انګلس د مارکس په شان د پرولتاریا او پرولتاریایي انقلاب له دریځ څخه له دموکراتیک مرکزیت او له واحد او نه تقسیمدونکي جمهوریت څخه دفاع کوله. هغه تر ځانګړو خاصو شرایطو لاندې فدرال جمهوریت ته د یو استثنا په توګه، د پرمختګ د یوې مانعې په توګه، یا له سلطنت څخه متمرکز جموریت ته د انتقالي بڼې په توګه، چې «یو قدم مخکې»ګڼلي کېږي، کتل. هغه یو له همدې یادو ځانګړو شرایطو په پام کي نیولو سره ملي مسئله مطرح کړې ده...ان د انګلستان په برخه کي داسې ښکاري، چې جغرافیایي شرایطو، یوې مشترکي ژبې او د څو پېړیو تاریخ، په څو کوچنیو جلاو برخو د انګلستان د وېشني ملي مسئلي ته د «پای ټکي ایښی دی» خو انګلس ان د دغه هېواد په تړاو د دغه څرګند حقیقت سره، همدا فکر کوي چې ملي مسئله لا زړه مسئله نه ده او په پایله کي دا مني چې په انګلستان کي به د یو فدرال جمهوریت جوړېدل یو «مخکي په وړاندې ګام» وي. البته دلته هېڅ داسې څرک هم نه لګېږي، چې انګلس دې د فدرال جمهوریت پر نیمګړتیاو نیوکه پرېښودې وي او یا د واحد متمرکز دموکراتیک جمهوریت لپاره له پرېکنده تبلیغات او مبارزې لاس په سر شوی وي.»(وګورئ د لنین کلیات، ۲۱ ټوک، مخ ۴۱۹).

یوازې له اکتوبر انقلاب وروسته، ګوند په کلکه د فدرال دولت پر دریځ ټینګار وکړ او هغه یې په انتقالي دوره کي د شوروي جمهوریتونو لپاره د خپل قانون د طرحې په توګه مطرح کړ.دا دریځ د لومړي ځل لپاره د ۱۹۱۸ کال په جولای کی «د زیارکښو او زبېښاک شویو خلکو د حقونو اعلامیه» کي، چې لنین لیکلي او د ګوند مرکزي کمیټې تصویب کړې وه، مطرح شو. دا اعلامیه وایي:«د روسیې شوروي جمهوریت د آزادو ملتونو د آزاد اتحاد پر اساس، د شوروي د ملي جمهوریتونو د یو فدراسیون په توګه جوړ شوی.» (د لنین کلیات، ۲۲ ټوک، مخ ۱۷۴).

دا دریځ په اتمې کنګرې کي (۱۹۱۹)د ګوند لخوا ومنل شو.(۴). څنګه چې پوهېږو په همدې کنګره کي د روسیې د کمونیست ګوند کړنلاره تصویب شوه.کړنلاره وایي:«د بشپړ وحدت په لور د یو انتقالي بڼې په توګه، ګوند د شوروي په بڼه د متشکلو دولتونو فدرالي ادغام توصیه کوي.» (د شوروي کمونیست ګوند کړنلاره).

ګوند په دې ډول د فدرالیزم له انکار څخه «د بېلابېلو ملتونو د کارګرې طبقې د بشپړ وحدت د یوې انتقالي بڼې» په توګه د فدرالیزم تر منلو پورې لاره وهلی ده.(د کمینټرن په دویمې کنګرې کي تصویب شوی:«د ملي مسئلي په اړه تزونه»).

د فدرال دولت په اړه د ګوند د نظراتو تکامل په دریو لاملونو پورې تړاو لرلي:

**لومړی**، دا حقیقت، چې د اکتبر انقلاب پر مهال د روسیې یو شمېر ملیتونه عملاً له یو بل څخه د یوې بشپړې جدایی او بشپړې انزوا حالت کي ول، له همدې کبله فدرالیزم د دې ملیتونو د زیارکښو پرګنو له پاشلو څخه د هغوې نژدې اتحاد او ادغام په لور یو مخکي ګام و.

**دویم**، دا حقیقت، چې د شوروي د پرمختګ په بهیر کي د فدرالیزم زیاتو بنو دا څرګنده کړه، چې په هېڅ ډول د روسیې د ملیتونو د کارګرو ولسونو د نژدې اقتصادي وحدت له موخې سره په تضاد کي نه دی، څنګه چې مخکي

ښکاره کېدله. کله چي فدراليزم په عمل کې پلی شو، وليدل شو، چي ان قطعاً له دې موخي سره په تضاد کې هم نه دی.

**دريم،** دا حقيقت، چي ثابته شوه چي ملي غورځنګ يو ډېر مهم لامل دی او د ملتونو د ادغام بهير ډېره پېچلې موضوع ده. څه چي د جګړې مخکي او د اکتبر انقلاب له مهال وړاندې لا ثابته نه وه.

**جوزوف ستالين**

دسمبر ۱۹۲۴

**يادداښت:**

۱. دلو نارودا (Delo Naroda، د خلکو غورځنګ)، يوه سوسياليستي انقلابي ورځپاڼه وه، چي له ۱۵ مارچ ۱۹۱۷ تر جولای ۱۹۱۸ په پتروګراد کې خپرېدله.

۲. زوندربوند(Sonder bund): د سويس د اوو کاتوليکو کانتونو ارتجاعي اتحاد و، چي په ۱۸۴۵ کې جوړ شو. دی اتحاد د دغه هېواد په تلپاتي سياسي بېلېدني ټينګار کاوه. په ۱۸۴۷ کال کې د زوندربوند او نورو کانتونو تر مينځ، چي يو متمرکز دولت يې سويس ته غوره ګڼو، جګړه وشوه. په جګړه کې زوندربوند ماته وخوړه او د ايالتونو اتحاد د سويس په يو واحد فدرال دولت بدل شو.

۳. د روسيې سوسيال دموکرات کارګر ګوند (بلشويک) اووم سراسري کنفرانس د ۱۹۱۷ کال د اپريل له ۲۴ ـ ۲۹ پورې په پتروګراد کې جوړ شو. دا د بلشويکانو لومړنی کنفرانس و، چي علني او قانوني جوړېده او د ګوند د کنګرې په توګه ګڼل کېده. ولاديمير ايليچ لنين د روانو شرايطو په اړه ګزارش کې هغه آرونو ته، چي مخکې يې «د اپريل تزونو» په نامه خپلې ليکنې کې فورموله بندي کړي ول، پراختيا ورکړه. ژوزف و.ستالين په دې کنفرانس کې د روان شرايطو په اړه د لنين له پرېکړه ليک دفاع وکړه او د ملي مسئلو په اړه يې ګزارش وړاندې کړ.کنفرانس د کامنف، رايکوف، زينووف، بوخارين او پياتاکوف اپورتونيستي او تسليم طلبانه دريځ، چي په روسيې کې د سوسياليستي انقلاب مخالفين ول او د ملي مسئلې په اړه يې ملي ـ شوونيستي دريځ درلود، وغند. د اپريل کنفرانس بلشويک ګوند ته له بورژوا دموکراتيک انقلاب څخه سوسياليستي انقلاب ته د اوښتلو لپاره د مبارزې لور روښانه کړ. د ملي مسئلې په تړاو د اپريل کنفرانس د پرېکړه ليک لپاره دې سند ته مراجعه وکړئ: د شوروي اتحاد د کمونست ګوند (بلشويک) د کنفرانسونو ،کنګرې او د مرکزي کميټې د پلنومونو پرېکړې او پرېکړه ليکونه»لومړی برخه، شپږم چاپ، ۱۹۴۰، ۲۳۳ مخ.

۴. د شوروي د کمونيست ګوند (بلشويک) اتمه کنګره د ۱۹۱۹ کال له ۱۸ مارچ تر ۲۳ پورې په مسکو کې دايره شوه. دې کنګرې په شديده توګه د ملي مسئلې په اړه د بوخارين او پياتاکوف د واکمن ملت شوونيستي نظرات وغندل.د شوروي کمونيست ګوند (بلشويک) د اتمې کنګرې مصوبې کړنلارې لپاره دې سند ته مراجعه وشي:«د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند (بلشويک) د کنفرانسونو، کنګرې او مرکزي کميټې د پلنومونو پرېکړې او پرېکړه ليکونه» لومړی برخه، شپږم چاپ، ۱۹۴۰، ۹۵ـ۲۸۱ مخونه.

۵.«د ۱۹۲۰ کال د جولای ـ اګست د کمينترن دويمه کنګره»،مسکو، ۱۹۳۴، مخ ۴۹۲.